مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۶/۰۵/۰۳

# راشه ښکلی یار مي شه

راشه ښکلی یار مي شه ، څو به له ما لري یې
څو به له ما لري یې ، راشه ښکلی یار مي شه
زړه یوسه دلدار مي شه ، ډک کړه له مستیو زړه
ډک کړه له مستیو زړه ، زړه یوسه دلدارمي شه
شپې ورځې غمخوارمي شه ، خلاص مي له غمونو کړه
خلاص مي له غمونوکړه ، شپې ورځې غمخوار مي شه
ستوری د سهار مي شه ، وسومه د هجر شپو
وسومه د هجر شپو ، ستوری د سهار مي شه
ګل مي شه ، بهار مي شه ، ښاد مي له خپل ژونده کړه
ښاد مي له خپل ژونده کړه ، ګل مي شه، بهار مي شه
سوي زړه کرار مي شه ، راکړه ډک د وصل جام
راکړه ډک د وصل جام ، سوي زړه کرار مي شه
یارمي شه ، نګار مي شه ، مانه جدایي مه کړه
مانه جدایي مه کړه ، یارمي شه ، نګار مي شه
ګل ته د ګلزار مي شه ، زېرى د بهار مي شه
زېرى د بهار مي شه ، ګل ته د ګلزار مي شه
ټکه په اغیارمي شه ، ماته په ناز وګوره
ماته په ناز وګوره ، ټکه په اغیارمي شه
یودم وفادارمي شه ، هر وخت وفاداردي یم
هر وخت وفادار دي یم ، یودم وفادرمي شه
راشه ښکلی یارمي شه ، زه اکبردي یار یمه
زه اکبردي یار یمه ، راشه ښکلی یار مي شه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ